د اروپايي ټولنې د انتخاباتو د څارنې ماموريت
د افغانستان اسلامی جمهوريت
د جمهوری رياست او ولايتي شوراګانو ټولټاکنې

# مطبوعاتی وينا

## د اروپايي ټولنې د ټولټاکنو د څارنې ماموريت

## خپل د اوږدې مودې څارونکي د هيواد بيلابيلو برخو ته ليږي

کابل، د جولای۲۲، کال ۲۰۰۹

د اروپايي ټولنې د ټولټاکنو د څارنې ماموريت، نن ۳۶ تنه څارونکي او ۸ تنه سيمه ييز کارکوونکي د ۱۲۰ کسيزې کلکې ډلې د يوې برخې په توګه د هيواد بيلابيلو برخو ته وليږل چې د ولسمشريزو او ولايتي شوراګانو د ټولټاکنو څارنه وکړي. د اوږدې مودې نوموړي څارونکي به څه ناڅه شپږ اونۍ په نوموړيو سيمو کې پاتې شي. دوی به د فعاليت په اتو سيمه ييزو مرکزونو کې مېشته شي او له هغه ځايه به د افغانستان په ډيری ۳۴ ولايتونو کې ټاکنيزې هلې ځلې وڅاري.

اروپايي ټولنه د افغانستان د دولت لخوا را وغوښتل شوه چې د افغانستان د ډيموکراټيک پرمختګ په موخه د اروپايي ټولنې د ژمنې، د ټولټاکنو د څارنې لپاره د چمتو کړې تګلارې او په نړۍ کې د ټولټاکنو د څارنې د پراخې تجربې په اساس يې و څاري.

د اروپايي ټولنې د ټولټاکنو د څارنې ماموريت به په افغانستان کې د نړۍ والو څارونکيو ستره ډله وي.

هيله ده چې د مطبوعاتي پوښتنو لپاره له لاندې کسانو سره اړيکه ټينګه کړئ!

<u>د افغانستان د ټولټاکنو لپاره د اروپايي ټولنې د څارنې د ماموريت مطبوعاتي چارواکي:</u>


### سندرا کادوری:

د اړيکي شميره: ۰۰۹۳(۰)۷۰۶۲۲۱۳۶۳
بريښناليک: sandra.khadhouri@eueom-afghanistan.org

### اګنيس دوکا:

د اړيکي شميره: ۰۰۹۳(۰)۷۰۶۲۲۱۳۶۴
بريښناليک: agnes.doka@eueom-afghanistan.org

ويب پاڼه: www.eueom-afghanistan.org